UNAMA
United Nations Assistance Mission in Afghanistan
Strategic Communication and Spokespersons Unit, Kabul, Afghanistan
Press Statement
http://unama.unmissions.org

## په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی یان کوبیش د لوی اختر په مناسبت  د سولې او  له یو بل سره د سولې په فضا کې د ژوند کولو د روحیې د ساتلو غږ کوي

**۲۶ اکتوبر ۲۰۱۲-** د ملګرو ملتونو په استازیتوب زه د لوی اختر د رارسیدو په ویاړ ټولو افغانانو او په هیواد کې د ملګرو ملتونو ټولو کارکوونکو ته خپل سلامونه رسوم.

موږ هیله من یو چې د دې کال لوی اختر به په افغانستان کې د زغم، درناوي او سولې ته د نوې ژمنتیا څخه په ډکه فضا کې ولمانځو.

دا شان ورځې موږ ته د دې فرصت راکوي چې د ګډو ارزښتونو په اړه لکه سوله، هم غاړیتوب او همکاري فکر وکړو چې د مسلمانانو د دین له اساسي اصولو څخه ګڼل کیږي.

ملګري ملتونه د اسلام دین او اسلامي دودونو ته ژور درناوی لري چې په افغانستان کې یې پالنه کیږي او دغه شان د ملګرو ملتونو ټوله کورنۍ او غړي دولتونه او سازمانونه هم د هغو درناوي کوي.

دغه وخت ما ته د دې فرصت پیدا شو چې په افغانستان کې په جګړو کې له ټولو ښکیلو خواوو څخه وغواړم چې د سولې او همغږي هغې روحیې ته درناوي وکړي چې د لوی اختر په لمانځلو کې خرګندیږي او د افغانستان خلکو ته د دې اجازه ورکړي چې له وینې تویولو، ځانمرګو بریدونو، چاودونو او نفرت څخه پرته له خپلو دودونو او لمانځلو څخه خوند واخلي.

د ملګرو ملتونو په استازیتوب، زه ټولو افغانانو ته د اختر مبارکي وایم.

---

**په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما)**

**http://unama.unmissions.org**